# د حمید بابا په کلام کښې د ارسال المثل قدرداني

شکیل احمد ,روح الله

**Abstract**

Hameed Baba is one of the prominent poet of the classic era of Pashto poetry. Along the other characteristics of his poetry, his style of writing is also occupies the place of individuality. Through this article, it is widely elaborated, how he furnished his poetry using the IRSAL UL MISAL and what is his magnificence in this aspect especially.

هره لویه او زړه ژبه په خپل ذات کښې د متلونو یوه لویه پنګه لري، چې ترې د هغه قام یا ټولنې د احساساتو، تجرباتو، تهذیب و تمدن، ثقافت او د ذهن و فکر اندازه کېږي. څومره چې په یوه ژبه کښې د متلونو شمېر زیات وي هغه هومره د هغه ژبې ویونکي د خپلو زړو نسلونو د تجرباتو نه زیاتې فائدې اخستې شي.

"لغت کښې د عربۍ او فارسۍ "مثل" د اردو "ضرب المثل" (یا کهاوت) د انګرېزۍ پروورب (Proverb) او د پښتو متل د نثر هم د یو قسم مختلف نمونه دي".[1]

"د پښتو تورے متل هم هغه د عربۍ ژبې لفظ "مثل" دے. چې "ت" یې په "ث" بدله شوې ده. ولې چې "ث" په پښتو لهجه کښې ثقیله ده. په انګرېزۍ کښې هم د "ث" په "تهـ" (TH) سره کوي. په فارسۍ او اردو کښې هم دغه لفظ "مَثل" یا "مِثل" مستعمل دے. چې زیات تره د ضرب سابقه ورسره راځي. یعنې ضرب المثل. او حال دا چې "ضرب المثل" په عربۍ ژبه کښې مثال ورکولو ته وائي. "یعنې ضرب المثل" معنٰی مثال تېرول یا متل تېرول. البته په اردو ژبه کښې د متل دپاره د

"کهاوت" تورے هم راځي".[2]

د ګڼو او بې شمېره خصوصیاتو، صفاتو او خوبو له وجې په موزونو الفاظو کښې د متل یو جامع تعریف ډېر ګران کار دے. ولې بیا هم کوشش کوو چې د متل یو تت شان تصویر د لوستونکو مخې ته کېښودلے شي.

انسائېکلو پېډیا امریکانه لیکي چې:

"یوې مختصرې، جامع مقولې ته چې یو افاقي صداقت په یو مؤثر انداز کښې پېش کوي، متل وائي".[3]

چېمبر انسائېکلو پېډیا د سپریانو د متل دا تعریف غوره ګڼلے دے:

"هغه مختصرې وېناګانې چې په بلاغت او رښتیاؤ ماموري وي او د ډېرې مودې راسې په خلقو کښې مقبولې وي په متل یادېږي".[4]

پښتو لغت "دریاب" د متل معنٰی داسې کوي:

"یوه وړه جمله چې د یوې ژبې د ویونکو اکثریت یې د هوښیارتیا د ټوکړې په حېثیت قبلوي".[5]

بې ځایه به نۀ وي که د متلونو په بابله د ځینو نورو پوهانو ژور نظریات او درانۀ افکار دلته وړاندې کړے شي. چې د متل په حقله خبره نوره هم واضحه شي.

چارلس اننډل وائي چې:

"متلونه هغه وړې وړې مګر چستې او جامع خبرې وي چې د انساني ژوند تجربې او مشاهدې پکښې په داسې عجیبه انداز، نااشنا طریقه او خوندناک طرز پېش کړے شوې وي چې د طنز او مزاح نمک هم پکښې وي".[6]

د متل په حقله پروفېسر داور خان داؤد لیکي:

"په اصطلاح کښې متل هغه مختصرې، مؤثرې، مشهورې، جامع، ساده او بې تکلفه وېنا یا فقرې ته وئېلے شي چې موزون الفاظ لري، ترتیب یې مناسب وي، چې مفهوم یې واضح او معنٰی یې اوچته وي".[7]

دوست محمد دوست شینواري هم د متل په حقله خپله رائے ښودلې ده او وئېلي يې دي چې:

"متل د خبرو یوه بېخي لنډه جمله ده چې د معنې په لحاظ بشپړه او د مفهوم او موادو په لحاظ عامه وي. د متل بلاغت او فصاحت په دې کښې دے چې د فورم له مخې لنډ او موجز د مانا په لحاظ مستعار او کنايه، د افهام له مخې ساده او عام فهم او د افادې په لحاظ په هدف رسا او سم لګېږي".[8]

غوټۍ خاورې لیکي:

"متل هغه عام آهنګ دار او مؤجز کلام دے چې په حکمت بنا وي. او د عمومیت آهنګ او ایجاز په ګانه پسوللي وي، که لنډۍ د پښتو جمالیاتي ټولنیز شعور تمثیلوي نو متلونه عقلاني او فلسفي خوابښي".[9]

عرض دا چې متل د فولکلوري ادب یو داسې په زړۀ پورې صنف دے چې د اولسي ژوند د هر اړخ احاطه کوي. دا د مشرانو د خُلې نه وتې هغه سپېځلې، په تول پوره او د معنې نه ډکه وېنا وي چې هر خاص و عام ته بغېر د څۀ شک شبعې نه منظوره وي او په سر سترګو يې مني. دا هغه مختصرې او جامع جملې وي چې ترېنه د یوې ژبې د قدآمت او وسعت اندازه لګېدلے شي.

متل اګرچې ډېر مختصر وي خو د متل دا وړې وړې جملې ډېرې زياتې مدللې او مؤثرې وي. دا په رموز او اشاراتو کښې د پوهې او دانش هغه په زړهٔ پورې وېناګانې دي چې په هر دور کښې ورته په درنه سترګه کتلے شوي دي.

دا د ازمائېلو تجرباتو او مشاهداتو يوه کوټلې خزانه او د اختصار، جامعيت او سادګۍ يوه ښکلې نمونه وي. دا د مشرانو د خُلې نه وتلې هغه قيمتي ملغلرې وي چې د پخوا راسې سينه په سينه په خپل روايتي انداز مونږ ته رارسېدلې دي.

په خبرو اترو کښې د بل د پوهولو او خبره د هغهٔ په ذهن کښې د کښېنولو دپاره د متل نه بله اسانه او ساده لار نشته. او دا ځکه چې د متل په وړو وړو جملو کښې د عقل، پوهې، بصيرت او دانش نه ډکې هغه وېناګانې وي چې "په کوزه کښې د سمندر رابندولو" په مصداق وي. ځکه خو پوهان وائي چې:

"المثل فی الکلام کالملح فی الطعام"

"يعنې په خبرو اترو کښې د متل مثال داسې دے لکه په خوراک کښې د مالګې".

چونکې په متل کښې سادګي، رواني، خوږوالے، اثر انګېزي او جاذبيت په جامع انداز کښې موجود وي. نو ځکه ورله هر شاعر او اديب هم په خپلو ليکونو کښې ځائے ورکوي او د خپل کلام او ليک حسن او خوبي پرې زياتوي.

په دې حقله اروابناد ډاکټر حکيم الله جان ليکي:

> "د پښتو متلونه د پښتو ژبې يوه مهمه، ادبي او تمدني سرمايه ده. دا د مطلب او معنې نه ډکې وړې وړې خبرې د لويو لويو مشاهدو او تجربو پېدا شوي دي. او د روانۍ، سادګۍ، بې ساختګۍ، اختصار، معنويت او کره والي نه پوره مامور وي. دغه وجه ده چې شاعران يې په خپل کلام کښې او اديبان يې په خپلو نثري فنپارو کښې په طور د

اهمیت و خصوصیت او طنزومزاح پېدا کولو دپاره استعمالوي. او خپلو لیکونو او وېناګانو له پرې ځلا او دوام ورکوي". [10]

په شعر یا کلام کښې یو متل په ښکلي او خاصه طریقه راوړلو ته د بدیع په علم کښې صنعت ارسال المثل وائي. دې سره په کلام کښې اثر، ښکلا او فصاحت پېدا کېږي. تقریباً د هر لوئې او قادرالکلام شاعر په شاعرۍ کښې د متل استعمال شوے دے. په دغه شاعرانو کښې یو شاعر عبدالحمید بابا هم دے.

"حمید بابا د خوشحال او رحمان بابا نه پس د پښتو ادب او شاعرۍ درېم استاد دے. او دۀ په پښتو شاعرۍ کښې یو نوے سبق شروع کړے دے. د دۀ شاعري د تخیل، صنائع، بدائع، استعاراتو، تشبیهاتو او نور ادبي او شعري تلازماتو په لحاظ ډېره اوچته شاعري ده". [11]

د اصطلاحاتو او محاورو نه علاوه د حمید بابا په کلام کښې د متلونو برمحل استعمال هم شوے دے. عبدالحمید بابا په خپل کلام کښې ځائے په ځائے ځنې متلونه کټ مټ او د ځنو مفاهیم بیان کړي دي. او د خپل کلام معنوي ښکلا او ښائست یې رابرڅېره کړے دے.

راځئ چې د حمید بابا د کلام نه څو نمونې په طور د بېلګې راواخلو.

متل: دنیا د چا ملګرتیا نۀ کوي. یا
دنیا د چا جاګیر نۀ دے. یا
دنیا نېمګړې ده او نېمګړې به وي.

نــۀ زمــا ده نــۀ د ســتا ده دا دنیــا
پــاتې شــوې لــه هــر چــا ده دا دنیــا [12]

متل: چې د ښۀ سره کښېنې ښۀ به شې، چې د بد سره کښېنې بد به شې.

هــر مجلــس لــري اثــر د ښــو د بــدو
دا متــل دے د ریښــتینو پــه رښــتیا[13]

متل: چرته ډب هلته ادب.

پـه زړهٔ مهـر پـه خُلـهٔ قهـر زوي تـه بويـه
څـهٔ ښـهٔ وائـي "چرتـه ډب هلتـه ادب"[14]

متل: چې هره ونه خورې يوه به دې ګنډېر شي.

چې لـه هـرې ونـې خـوري يـوه شـي زهـر
مجـرب دے پـه جهـان کښـې دا نظيـر[15]

متل: د پاخهٔ استاد ديګ رو رو پخيږي.　　يا
د بزرګانو ديګ په ورو پخيږي.

رقيبـان مـې دې پـه آه پـورې نـهٔ خانـدي
د مردانو ديـګ پخيـږي پـه مهـال پـس[16]

متل: د مظلوم آواز تر آسمانه رسي.

د مظلــوم د آزار غشـــے رســا لګـــي
هيڅ ګوذار يې خطا نـهٔ درومـي عـبس[17]

متل: چرته نهٔ غرض هلته څهٔ غرض.　　يا
چرته نهٔ کار هلته څهٔ کار.

"هلتــه څـهٔ غـرض چـې نـهٔ غـرض" متــل
دے

ځکه نۀ کړي په ډیوه بلبل غرض[18]

متل: اوښ په پوله نۀ پټیږي.

مخ زما تر یاره پورې تورکو دے نسکور دے
څو به اوښ تر پولې لاندې پټ له خلقو بیایم[19]

متل: د لټ غوي آخر خاوند قصاب وي.

د جملـه بـدیو سـر تـن اسـاني ده
خرڅاوه شي لټ غـویئے پـه قصابانو[20]

متل: پردۍ پښه په خپه معلومه ده.

کـه څوک نۀ پټوي سترګې پـه حرامـو
شي په پښو کښې پېژندے پردۍ پښه[21]

متل: د لوندې خټې لړې اوبۀ بهانه وي.

د لمـدو خټـو دارو لـړې اوبـۀ دي
ازمئـې رابانـدې څـۀ لـره زور هـومره[22]

متل: د بل تر وریژو غوښو خپل سوړ سک (جوارے) د کور ښۀ دے. یا
د خپل کور وچه ډوډۍ ښۀ ده د پردي د حلوه پولاؤ نه.

د منـت پـولاؤ دې زهـر شـه چـې مـومې
د محنت سوے سوکړک د ساګ سره[23]

متل: چې بل ته کوهے کني هغه به پخپله پکښې ورلوېږي.

هم هغه به پکښې پرېوځي دا متـل دے
چې و بـل و تـه کـوهے کنـي وبـال کـا[24]

متل: په پردي مال ځواني نۀ کېږي.

پـه پـردو مړانـه نـۀ کيـږي بـې خپلـو
لـه لحـده دا اواز جمـال جـلال کـا[25]

متل: اوبو اخستے ځګ ته هم لاس اچوي. يا
اوبو اخستے هر بوټي ته لاس اچوي.

هـر مـذهب راتـه روا د عشـق هـوا کـړه
ګـوتې اچـوي هـر څيـز تـه اوبـو وړے[26]

متل: پيشو د خدائے دپاره منږک نۀ نيسي.

نۀ ناصح و ماتـه پند برائے خدائے کړي
نـۀ پيشـو نيسـي منږک بـرائے خـدائے[27]

متل: چې خس کم وي نو جهان پاک وي.

نشـته هـېڅ زمـا پـه مـرګ چـا لـره بـاک
دا متـل دے چـې خـس کـم وي جهـان پـاک[28]

متل: روغ صورت اختر دے. يا
روغ صورت بادشاهي ده.

سـر د غـم د ازرده رنـځ و سسـتي ده
د همـه خوښـو حاصـل تندرسـتي ده[29]

دغه څو شعرونه چې د بېلګې په طور وړاندې کړے شول، به شايد چې د موضوع په رڼا وي کښې ګټور پاتې شوي وي.

## حوالې

[1] داؤد، داور خان، پښتو ادب کښې متل، یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، نیو ال عوامي پرنټرز بالمقابل سمال انډسټریز کوهاټ روډ پېښور جنوري ۱۹۹۰ء، مخ ۱۹

[2] حمید الله، صاحبزاده، پروفېسر، پښتو متلونه – د قرآن په رڼا کښې، "لیکنځې"، پښتو اکېډیمي بلوچستان کوئټه، مئی ۱۹۸۴ء، مخ ۲۳

[3] انسائېکلو پېډیا امریکانه، ۱۹۵۸ء، جلد ۲۲، مخ ۷۰۴

[4] چېمبر انسائېکلو پېډیا (بحواله روهي متلونه، از محمد نواز طائر)، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، حمیدیه پرېس پېښور ۱۹۷۵ء، مخ ۳

[5] پښتو لغت "دریاب"، اېن ډبلیو اېف پي ټېکسټ بک بورډ پېښور، امید پرنټرز دربار مارکیټ لاهور ۱۹۹۴ء، مخ ۱۱۷۲

[6] چارلس اننډل (بحواله روهي متلونه، از محمد نواز طائر)، مخ ۳

[7] داؤد، داور خان، پښتو ادب کښې متل، مخ ۲۰

[8] شینواري، دوست محمد دوست، د پښتو د اولسي ادب لارې، دانش خپروندیه ټولنه پېښور، دویم چاپ ۲۰۰۲ء، مخ ۵۲

[9] غوټے خاورې، د پښتو شفاهي ادبیات، شکل او مضمونونه، د ا، ج د علومو اکېډیمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، دولتي مطبعه کابل ۱۳۶۲هـ، مخ ۸

[10] حکیم الله جان، ډاکټر، "پښتو ادب کښې طنزومزاح"، ناچاپه مقاله د پي اېچ ډي دپاره، پښتو څانګه پېښور پوهنتون ۲۰۰۴ء، مخ ۳۲۲

[11] حبیبي، عبدالحئ، پښتانۀ شعراء، یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، مخ ۱۲۳

[12] جېلاني، سید انوار الحق، ډاکټر، (مقدمه) در او مرجان یعنې د عبدالحمید بابا دیوان، یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، مخ ۲

[13] هم دغه اثر، مخ ۲

14 هم دغه اثر، مخ ۱۲
15 هم دغه اثر، مخ ۳۰
16 هم دغه اثر، مخ ۳۸
17 هم دغه اثر، مخ ۳۸
18 هم دغه اثر، مخ ۴۴
19 هم دغه اثر، مخ ۷۲
20 هم دغه اثر، مخ ۷۲
21 هم دغه اثر، مخ ۸۵
22 هم دغه اثر، مخ ۸۲
23 هم دغه اثر، مخ ۸۲
24 هم دغه اثر، مخ ۹۵
25 هم دغه اثر، مخ ۹۵
26 هم دغه اثر، مخ ۱۱۰
27 هم دغه اثر، مخ ۱۱۴
28 برېکوټي، شبیر افضل خان، د پښتو شعروادب تاریخ، ملت پرنټرز لاهور، ۱۹۹۵ء، مخ ۴۴۸
29 هم دغه اثر، مخ ۴۴۹